**ليکونکو**: مارګريت بلاور (Margaret Flower) او کيين زيزس (K.Zees)
**منبع او خپريدو نيټه** : ګلوبال ريسرچ«23-11-2018».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».

----------------------------------------------------

## نړيوال کمپاين دامريکا / ناټو دبهرنيو اډو تړلو لپاره دولويديځ امپرياليزم دپای ته رسيدو غوښتنه

## Global campaign calls for closure of US/NATO foreign bases to end western imperialism

## د متحده ايالاتو / نا تو د بهرنيو نظا مي اډو په وړاندی دلمړی نړيوال کنفرا نس اعلاميه

*Press communique of the first international conference against US/NATO foreign military Bases*




د متحده ايالاتو او د ( نا تو) د نظا مي اډو (پا يګاه) په وړاندي لمړي نړيوال کنفرانس دنومبر ميا شتي له (16-18) نيټې پوری د **ايرلند دوبلند** دآزادی په سا لون کی ترسره شو چي په دی نړيوال کنفرانس کي (300) ګډونکونکو د نړی له (35) هيوادونو څخه پکښې برخه اخيستی وه . په نوموړی کنفرانس کی دمختلفو هيوادونو د غورځنګونو اود سا زما نونو په استا ذی توب لکه له – کوبا ، ارژانتين ، برازيل ، کلمبيا ، متحده ايالات ، ايتا ليا ، ايرلند ، د چک جمهورت ، اسرايل ، فاسطين ، لهستا ن ، بريټانيا دکانګو دموکراتيک وجاپان ،کينيا اواسترليا څخه خبری وکړلی اوخپل وړاند يزونه يی بيان اوتوضيح کړلی.

دا کنفرا نس د **متحده ایالاتو** ، **« نا تو »** دپوځی اډو په وړاندي د مبا رزی هغه لمړي اوسا زمان ورکړ شوی د هڅی اود اند نوی اوتا زه تعهد وه چی له (35) څخه زیا ت د سولي ، عدالت اود ژوند دچا پیریا ل سا زما نونو له خوا رامینځته شوی وه چی د نړی له سرا سری برخی څخه د (700) سا زما نونو اود نړیوالو فعا لینو پواسطه سره تا ید او هغوی خپل ملاتړ ددی کنفرا نس له پریکړو څخه اعلام کړل . هغه څه چي دغه نړیوال کنفرانس مونږ. ټولو ته یو ښه الهام اویا داډ ګیرنه راوبخښل هغه زمونږ توافق پر هغو اصولو باندی کوم چی د نړیوال ا تحا د یی د کمپا ین په اعلامیه کی مندرج دی دګډونکونکو پواسطه سره تا یید شو .

په کنفرانس کي ګډونوالو یو دبل څخه واوریدل اودسازمانونواود مبارزو غورځنګونو دا ستا ذوسره په توافق کی خپل نه تمید ونکی مبارزه د نړی په سرا سر کی د خارجی نظا می اډو د مینځه وړلو د پا ره اعلان کړل .

یعنی دهغو نظامي اډو په وړاندي چي په کوربه هیواد کي دهمدی نظامی اډو څخه ــیرغل ، دهیواد په داخلی چارو کی لاس وهنه ، مړنی ، ویجا ړنی روغتیا یی اود ژوند دچا پیریا ل زیا ن رسونه تر سره کیږی .

ددی کنفرانس ونډه اخیستونکو اوسازما ن ورکونکو دا صولو په اړه سره موافقه وکړل کوم چي په داسی حال کي چی دوی د بهرنیو نظا می اډو په وړاندی چی همدا اوس امریکا او« نا تو» په ټول نړی کی ( 1000) نظا می اډی (پایګاه ) چی دمتحده ایالاتو لخوا دنړیوال امپریا لیستی د تسلط اسا سی بنسټونه را تشکیلوی چی په دی شکل سره دمتحده ایالاتو ، (ناتو) اوداروپا دهیوادونو له خوا نړیوال سوله اوبشریت ته یو لوی ګواښ دی نوله دی کبله با ید دغه ټول اډی زر ترزره وتړل شی .

دناتو دغړو هیوادونو نظامی اډی د ا نرژی ، طبعی زیرمو ، ترانسپورت سړکونو ، بازارونو با ندی د خپل نفوذ د تسلط د پراخیدو لپا ره چی وشی کړلی خپل ما لی ،سیا سی اونظا می ګټو پیا وړی کړی چی دا پخپله دخپلواکو هیوادونو په ژوند کی دامپریالیزم یوځرګنده نظا می مداخله دي او د نړیوال دمنل شوی اصولو اوقوانینو اوپه تیره بیا د ملګرو ملتونو له منشور څخه ښکا ره سرغړونه دي .

**دامریکا اود « نا تو » د پوځی اډو په وړاندی لمړی نړیوال کنفرانس .**

په کنفرانس کی ګډونوالو دنړی پر ټولو سازمانونو او غورځنګونو باندی غږ وکړل چی یودبله سره په نژدی همغږی کی دنړیوال کمپاین دفعال ونډه اخیستونکو په توګه دمتحده ایالاتو اود(ناتو) دنظامی اډو په وړاندي دخلکو په تنظیم اوپه راپارولو اویا په حرکت راوړلو کی سره موافقه وکړی .

په داسی حال کي چی مونږ دمتحده ایالاتو اود (ناتو) دټولو پوځی اډو د مینځه وړلو غوښتنه کوو نو لازم ګڼل کیږی چی ددغه اډو (پایګاه) اودپوځی تا سیسا تو په اړین د بین المللی غورځنګ پوره پا ملرنی دغه نوموړی اډو ته را واړو مثلاً دبیلګي په توګه : دکوبا په ګوانتانامو کي ، په اوکیناوا اوسویلی کوریا کي ، د ا مریکی پوځی اډی په رام شتا ین (Rammstein) جرمنی او صربیا کی ، د امریکی او**د نا تو** مخکینی اونوی نظا می اډی په یونان ، اوقبرس کی ، په افریقا کی د ( افریکوم= AFRICOM ) په نوم پوځی اډه چی دامریکی ټول نوی اډی دهغه سره په اړیکی کی خپل نقش لوبوی همدارنګه په ایتالیا اوپه اسکاندناویی هیوادونو کی یوشمیر نوی جوړکړل شوی پوځی اډی . دایرلیند دشیونن (shannon) هوایی ډګر چي نوموړی هوایي ډګر دامریکی او د(ناتو) پواسطه سره دنظامی هوایی اډی په توګه کار اخیستل کیږی یا همدارنګه دامریکی اود فرانسی پواسطه سره دسوریی په خاوره کی دننه دنوی نظا می اډو د جوړولو پروګرام .

ددی کنفرانس ټول ګډون کونکو په دی سره همغږ شو چی دخلکو سره په اتفاق خپل دوامدار مبارزي ته دهغو ستونزو لکه ( نظامی تیری ، اشغال ، دهیوادونو په داخلی چارو کی لاس وهنه ، دژوند دچاپیریال ویجاړنی ، دروغتیایی دناخوالی داغیزی په مقابل کي ) کوم چی دا ټول کړنی دهمدی نظامی اډی پواسطه سره را مینځته کیږی دوام ورکړی اودهمدی کنفرانس دپریکړو اودسوله ایزسپارښتنو سره په ملاتړ دراتلونکی کال (2019) لپاره کوم چی دحرکت په پرمخ وړلو کی به دنړیوال خوځښت پیاوړتیا او فعالیتونه پراخه کړی سره خپل توافق وښودل.

دی هدف ته دیو ګام په رسید و کنفرانس پریکړه وکړ چی دنړی له سرتاسر څخه خلک د(ناتوداویاوم (70) کالیزی دلمانځنو په وړاندی چی داپریل په (څلوروم) کال (2019) په واشنګتن کی ترسره کیږی لاریونو ته بسیج کړی .

دکنفرانس ګډونوالو په یو غږ سره وویل مونږ دکیوبا د خلکو سره چی د څولسیزو څخه دخپل خا وری د بیرته ترلاس کولو د پا ره هڅی ته دوام ورکوی کوم چی دامریکی له خوا په غیر قنونی بڼی سره غضب شوی دی خپل یو والی اعلانوو چی هرڅومره زر دی ګوا نتا نا مو بیرته کوبا ته راستا نه کړی او همدارنګه مونږ د سولی لپا ره د شپږم نړیوال سیمینا ر اود بهرنیو نظا می اډو دماتولو لپاره خپل ملاتړ اعلان کوو. هغه سیمینار چی د موب پا ز(MOVPAZ) له خوا د می د میا شتی له (6-4) نیټی کال (2019) په ګوانتا نا مو کوبا کی تنظیم کړ شوی دی .

دکنفرانس ټول ګډونوالی د ایرلیند دسولی اودعدالت د اتحادیی (PANA) له میلمه پا لنی ، مهربا نی اوددی کنفرانس د کوربتوب په نسبت دخپل خوښي ممنه کوی.

د متحده ایالاتو ،(نا تو) د پوځـي اډو په وړاندی د لومړي ځل لپاره په کنفرانس کې برخه والو لخوا منل شوي پریکړي

د نومبر 18، 2018

***ډوبلین، آیرلینډ***

---------------------------------------- **په سلامو نو «2018-11-27»**

*